داکتران بدون سرحد
بې پـــولې ډاکټـــران

**د بې پولي ډاکټرانو (ایم ایس ایف) لومړنۍ څېړنه**

**په افغانستان کې د کندوز تراما مرکز باندې برید**

*نومبر ۲۰۱۵*

د ۲۰۱۵ د نومبر په ۵مه په عامه توګه خپریږي

MEDECINS SANS FRONTIERES

لاندې سند د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۳مه په کندوز کې د بې پولې ډاکټرانو (ایم ایس ایف) پر روغتون باندې د هوایي برید پر مهال او وروسته له بریده د بې پولې ډاکټرانو (ایم ایس ایف) لومړنۍ داخلي څېړنه ده. دا څېړنه د بې پولې ډاکټرانو (ایم ایس ایف) د افغان او نړیوالو کارکوونکو څخه د پلټنو، د داخلي او عامه مالوماتو، د سټلایټ د انځورونو تر څنګ په روغتون باندې له برید مخکې او وروسته انځورونو، د ایمیلونو او تیلیفوني خبرو اترو د تبادلې پر بنسټ ترسره شوی دی. دا څېړنه یوه روان بهیر دی او له پېښو څخه د بې پولې ډاکټرانو (ایم ایس ایف) د داخلي وروستي راپور ښودنه نکوي.

په کندوز کې د خپلو فعالیتونو د مخکنیو مالوماتو په ګډون، دا سند ټولې پېښې، د هغو لپاره چې د پروژې له فعالیتونو سره اشنا ندي په ترتیب سره تر کتنې لاندې نیسي.

## <u>په کندوز کې د بې پولې ډاکټرانو (ایم ایس ایف) فعالیتونه (۲۰۱۱-۲۰۱۵)</u>

بې پولې ډاکټران (ایم ایس ایف) د ۲۰۱۱ زیږدیز کال په اګست کې په کندوز کې د کندوز د تراما مرکز (KTC) د پرانستې راهیسې فعالیت کاوه[1]. د کندوز تراما مرکز (KTC) د افغانستان په شمال-ختیځ کې د خپل ډول له یواځنی روغتیایي مرکز وو. د کندوز تراما مرکز په ترافیکي پېښو، او همدارنګه د بمب په چاودنو او ډزو کې ټپي شوو قربانیانو ته د لوړ کیفیت او وړیا جراحي خدمتونه برابرول. روغتون ۹۲ بسترې د ناروغانو لپاره درلودې، چې د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په میاشت کې د بسترو شمېر ۱۴۰ ته ورسېد تر څو د ناروغانو د بې سارې داخلې پر وړاندې سنبال اوسي. د کندوز تراما مرکز د بېړنۍ څانګې، درې عملیاتي خونو، د مجهزو روغتیایي خدمتونو برخې، همدارنګه ایکسرې، درملتون، فزیوتراپي، او د لابراتوار په امکاناتو مجهز روغتون وو. د کندوز تراما مرکز کې په ټولیز ډول ۴۶۰ کارکوونکو فعالیت کاوه. بې پولې ډاکټران (ایم ایس ایف) د ۲۰۱۵ کال د جون په ۲۴مه د کندوز ښار په ۱۵ کیلو مترۍ کې د چهاردرې په ولسوالۍ کې یو کلینیک پرانیست چې نرسانو د جراحۍ اړونده ناروغانو لپاره، مخکې له دې چې د کندوز ښار ته راوړل شي، لومړنۍ روغتیایي مرستې برابرولې.

په ۲۰۱۱ زیږدیز کال کې، د کندوز تراما مرکز (KTC) د پرانستې راهیسې، له ۱۵،۰۰۰ څخه په ډېر شمېر د جراحۍ اړوند عملیات ترسره شوي او له ۶۸،۰۰۰ څخه ډېرو سملاسي ناروغانو درملنه شوې ده. لکه څنګه چې په لاندې ګراف کې لیدل کیږي، د کندوز تراما مرکز (KTC) کي د ناروغانو ټولیزه شمېره، د ۲۰۱۵[2] زیږدیز کال د لوېې شمېرې تر څنګ، په تدریجي ډول لوړیږي.

[1] شدیده جراحۍ کې، د بېلګې په ډول، د ماینونو او بمونو چاودنه، ډزې، ټپي کېدنې او بریدونه شامل دي. غیر ارادي جراحۍ کې د سړک پر سر د موټرو ټکرونه، لوېدل یا غورځېدل، غیر قصدي یا ارادي سوځېدنې، او نور ټپونه شامل دي.

[2] په کندوز کې د بې پولې ډاکټرانو (ایم ایس ایف) خدمتونه په بشپړ ډول وړیا وړاندې کېدل او د ناروغانو درملنه د هغوی د روغتیایي اړتیاوو سره سم، د قومي، مذهبي عقایدو، او یا سیاسي تړاو د توپیرونو په نظر کې نیولو پرته کېدله.

د ۲۰۱۵ د نومبر په ۵مه په عامه توګه خپریږي




په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې، له ۲۲،۰۰۰ څخه ډېرو ناروغانو په روغتون کې روغتیایي خدمتونه ترلاسه کړل او ۴،۲۴۱ جراحي عملیات ترسره شول.

په کندوز کې د بې پولې ډاکترانو (ایم ایس ایف) فعالیتونه د شخړې له ټولو خواوو سره یوې موافقې ته په رسېدو سره، تر څو زمونږ بې طرفه روغتیايي اسانتیاوو درناوی وکړي، د یوې بشپړ او پراخ بهیر پر بنسټ ترسره کېدل. موافقې په افغانستان کې د روغتیایي چارواکو او همدارنګه له اړونده د مخالفو وسلوالو ډلو روغتیایي چارواکو سره ترسره شوې وې. په دې موافقو کې د نړیوال بشري قوانینو د تطبیق وړ ځانګړو برخو ته اشاره شوې ده چې په لاندې ډول دي:

- د ټولو ټپیانو او ناروغانو درملنې ته، د کرکې او تبعیض پرته ژمن پاتې کېدل
- د ناروغانو خوندیتوب او د کارکوونکو له لورې، د ناروغانو د درملنې په بهیر کې، د هغوی د نه ځورونې تضمین کول
- د روغتیایي کارکوونکو د روغتیایي دندو د څېړنو څخه خوندیتوب او مصونیت
- د روغتیایي خدمتونو او ناروغانو محرمیت ته درناوی کول
- د روغتون په انګړ کې د وسلو د نشتون پالیسی ته درناوی کول

د دې تعهدونو پر سر، له ټولو نړیوالو نظامي ځواکونو سره لکه، د امریکا د متحده ایالتونو د منظمو او ځانګړو ځواکونو څانګو، ناټو یا نړیوال ایتلافي ځواکونو، افغان ملي اردو، ملي امنیتي ادارو، او همدارنګه د مخالفو وسلوالو ډلو نظامي قوماندې تعهد او لاسلیکونه شوي وو. د شخړو او نښتو سیمه ییزو نظامي اړخونو د بې پولې ډاکترانو (ایم ایس ایف) په روغتون کې د وسلو نشتون په پالیسی باندې توافق منلی وو.

دا توافق او تړونونه د کندوز تراما مرکز (KTC) کې د وسلو نشتون پالیسی په پلې کولو، د بې پولې ډاکترانو (ایم ایس ایف) له لورې د بې وسلې ګاردانو یا ساتونکو په ګمارلو، او همدارنګه په سیمه کې له خلکو او د شخړې له ښکېلو خواوو سره د خبرو اترو په کولو سره عملي شول.

## له هوايي برید مخکې د اونۍ حال (۲۰۱۵ زیږدیز کال، ۲۸سپتمبر – ۰۲ اکتوبر)[3]

*د سپتمبر ۲۸مه، د دوشنبې ورځ*

د افغان دولت او طالب ځواکونو[4] تر منځ د سپتمبر د ۲۸مې سهار وختي په کندوز ښار کې درنه جګړه پیل شوه. د بې پولې ډاکټرانو (ایم ایس ایف) ټیم په ډېر شمېر د ټپي ناروغانو د درملنې په تمه د پلان په جوړولو کار پیل کړ.

د بې پولې ډاکټرانو اداري (ایم ایس ایف) له ټولو کارکوونکو او هغو کارکوونکو څخه، چې د روغتون په پرمخ بېولو کې اړین وو، په روغتون کې د پاتې کېدو غوښتنه وکړه تر څو په ښار کې له ګرځېدو راګرځېدو او یا روغتون ته د نه لاسرسي په صورت کې له راتلو څخه ډډه وکړي. د همدې ورځې د غرمې په وخت، د بې پولې ډاکټرانو (ایم ایس ایف) هغه افغان او نړیوال کارکوونکي چې په روغتون کې د هغوی شتون اړین نه وو، خپلو کورونو ته واستول شول.[5]

د یو معیاري چلند په توګه[6]، د بې پولې ډاکټرانو (ایم ایس ایف) له ناروغانو څخه له وسلوالي ډلې سره د تړاو په اړه پوښتنه نکوي. خو د کالیو (یونیفورم) ډول ته او نورو ځانګړتیاوو ته په کتو سره، داسې ښکارېده چې یو شمېر ټپي شوي جنګیالي روغتون ته راوړل کېدل.

د تراما مرکز (KTC) د پرانستې راهیسې، د ټپي شوو جنګیالیو لوی شمېر دولتي ځواکونه او پولیس تشکیلوي. د سپتمبر په ۲۸مه د اونۍ په پیل کې، ډېر شمېر ټپي شوي جنګیالي طالبان وو. له دواړو خواوو څخه د ټپي شوو جنګیالیو تناسب د جګړې د شدت، د جګړې د لومړۍ جبهې د موقعیت او روغتون ته د لاسرسي او د روغتیايي اسانتیاوو د ممکنه شتون پر اساس توپیر کاوه.

کله چې جګړه سخته شوه، بې پولې ډاکټران (ایم ایس ایف) ناروغانو ته وړاندیز وکړ تر څو ټول نظامي مشخصات او جامې په روغتون کې له خپلو ځانونو څخه لرې کړي، ځکه په روغتون کې د شخړې د دواړو لوریو تر منځ چې تر درملنې لاندې دي د تشنج د راکمولو لپاره د یو معیاري چلند په توګه کنټرل کیږي. د افغان دولت ځواکونو د بې پولې ډاکټرانو (ایم ایس ایف) د روغتون له ټیم سره بل روغتون ته د دولتي ټپي ناروغانو د لېږد لپاره کتنه وکړه. خطرناک ټپیان په روغتون کې پاتې شول، پداسې حال کې چې ډېر شمېر ټپي شوي دولتي ځواکونه نورو روغتونونو ته ولېږدول شول. لکه څنګه چې زمونږ ټیمونه خبر دي، له دې څخه وروسته، د تراما مرکز یا روغتون ته هیڅ ټپي شوي دولتي ځواکونه رانه وړل شول.

---

[3]د بې پولې ډاکټران (ایم ایس ایف) له ۲۸م د سپتمبر څخه تر ۲م د اکتوبر پورې د روغتیايي احصایې ته په بشپړ ډول لاسرسی نلري، ځکه چې مخکې له دې چې روغتیايي ارشیف، د ناروغانو فایلونه، او بسترشوو ناروغانو اسناد ټول د ودانۍ په منځنۍ برخه کې اېښول شوي وو چې د هوايي برید په پایله کې د هغوی ډېرې برخې ویجاړې شوې.

[4]بې پولې ډاکټران (ایم ایس ایف) په معمول ډول طالبانو او نورو مخالفو ډلو ته په افغانستان کې د "وسلوالو مخالفینو ډله" اصطلاح کاروي. په دې سند کې، د "طالبانو ځواکونه" اصطلاح ځکه کارول شوې چې د څېړنې لپاره د هغو خلکو له لوري چې مرکې ورسره ترسره شوې ډېره کارول کېده.

[5]بې پولې ډاکټران (ایم ایس ایف) ډېر ځلې د خپلو کارکوونکو هغه شمېره راکموي چې د ډېرې ناامنۍ پر وخت د ژوند ژغورنې روغتیايي فعالیتونو د پرمخ بېولو لپاره اړین وي.

[6]د یو بې طرفه روغتیايي اداري په توګه، بې پولې ډاکټران (ایم ایس ایف) له یې وسلوالي ډلې سره له وسلوالو څخه د تړاو په هکله پوښتنه نکوي ځکه د روغتیايي اصولو پورې اړونده مالومات نه کنټرل کیږي. د بې پولې ډاکټرانو (ایم ایس ایف) د ناروغانو اسنادو کې ایم ایس ایف د وسلې نشتون د پالیسي د یوې برخې په توګه د روغتون په دروازه کې د وسلو راټولولو ته په اړیکې سره، د "C" او "M" توري د ملکي او نظامي ناروغ ښودنه کوي. له دې پرته نور هیڅ جزیات، دا چې له کومې وسلوالې ډلې سره یو ناروغ تړاو لري نه ثبتیږي. کله چې نظامي ټپي ناروغان په روغتون کې د نړیوال بشري قوانینو له مخې جنګیالي یا وسلوال نه کنټرل کیږي.

د مازدیگر په ۶ بجو، دوه طالب وسلوال روغتون ته راغلل تر څو بې پولې ډاکټران (ایم ایس ایف) ته د ښار د خپل کنټرول لاندې راوستو په اړه خبر ورکړي.

د شپې تر ۱۰ بجو پورې، د ایم ایس ایف ټیم د ۱۳۷ ټپیانو درملنه کړې وه، چې ۲۶ یې ماشومان وو. ډېر شمېر ناروغانو د ګولیو ژور ټپونه درلودل چې جراحانو د ګېډې، لاس او پښو، او سر شدید عملیات ترسره کول.

*د سپتمبر ۲۹مه، د سه شنبې ورځ*

د ایم ایس ایف مطبوعاتي خبرپاڼه نشر کړه چې ویلي وو چې "روغتون له ناروغانو ډک دی،" او دا چې "مونږ د بسترو شمېر د ناروغانو بې ساري بسترېدو ته له ۹۲ څخه ۱۱۰ ته ډېر کړ، خو خلک روغتون راروان وو. مونږ ۱۳۰ ناروغان د روغتون په وارډونو، دهلیزونو او حتی په دفتري خونو کې تر درملني لاندې درلودل. د روغتون له ډکېدو او شخړې دوامداره کېدو سره، مونږ نشو کولی تر څو په روغتون کې د ټپیانو د نوي څپې د درملنې تر عهدې ووځو."[7]

د ایم ایس ایف ټیم د طالبانو له استازو سره وکتل چې د رواني جګړې له امله د نورو سختو ناروغانو د بسترولو د اړتیا په اړه خبرې اترې وکړي، تر څو ځیني ناروغان له روغتون څخه خارج شي او هغه ناروغان چې لا نورو روغتیایي خدمتونو ته یې اړتیا لري د چهاردرې کلینیک ته واستول شي.

د ایم ایس ایف یو موټر چې هوایي ډګر ته په لار وو د جګړې د لومړۍ جبهې څخه د تېرېدو پر مهال تر برید لاندې راغی. د ایم ایس ایف کارکوونکو موټر د خپلو ځانونو د خوندیتوب لپاره موټر پرېښود. راتلونکې ورځ، موټر له روغتیایي توکو سره یوځای روغ رمټ وموندل شو.

په کندوز کې د ډېرېدونکې جګړې له امله، د ایم ایس ایف اداري د کندوز د تراما مرکز د موقعیت GPS کاردیناسیون د ایمیل له لارې یو ځل بیا د امریکا متحده ایالتونو د دفاع وزارت، افغان کورنیو چارو او دفاع وزارت او په کابل کې امریکایي ځواکونو ته ورواستاوه. د GPS کاردیناسیون د کندوز تراما مرکز په لاندې ډول دی: 36°43'4.91"N 68°51'43.96"E (د روغتون مرکزي ودانۍ) 36°43'4.29"N 68°51'42.62"E (د کندوز تراما مرکز کې د اداري څانګې ودانۍ).

د امریکا متحده ایالتونو د دفاع وزارت او د امریکایي ځواکونو استازولیو مونږ ته راورسېدل او مونږ ته یې ډاډ راکړ چې کاردیناسیون ټولو اړخونو ته ولېږل شو. د افغان د کورنیو چارو له لوري شفاهي تایید ترلاسه شو. د ایم ایس ایف اداري ملګرو ملتونو ته هم د منځګړي په توګه کاردیناسیون واستاوه او د ایتلافي ځواکونو ته یې د هغو د استولو تاییدي راکړه.

*د سپتمبر ۳۰مه، د چهارشنبې ورځ*

د چارشنبې په ورځ د ۱۳۰ ناروغانو څخه یې ۶۵ طالب ټپي وسلوال وو چې په روغتون کې تر درملنې لاندې وو. د دې ورځې په پیل کې، له روغتون څخه په ډېر شمېر ناروغان د روغتیایي سپارښتنو په ورکولو سره خارج شول. دا مالومه نده چې آیا دا ناروغان په خپله د ایم ایس ایف او طالبانو د استازو تر منځ د خبرو اترو په ترڅ کې د بسترو د خوشې کولو لپاره له روغتون څخه خارج شوي او یا دا چې د امنیتي ګواښونو د ډېرېدو له امله وتلي، ځکه داسې اوازې خپرې شوې چې دولتي ځواکونه د کندوز ښار د بیانیولو لپاره چمتووالی نیسي. له روغتون څخه د ناروغانو د خارجېدو سره سم، نوي ناروغان بسترېدل.

د چهارشنبې په ورځ، ایم ایس ایف خبر تر لاسه کړ چې دوه ټپي طالبان د لوېي رتبې کسان دي. دا انګېرنه د مختلفو دلایلو پر بنسټ کېده ځکه د ډېرو وسلوالو له لوري روغتون ته راوړل شول، او همدارنګه د د هغوی د روغتیایي حالت په اړه دوامداره پوښتنو کول تر څو له روغتون څخه په چټکه د خارجېدو لپاره درملنه تېزه کړي.

*د اکتوبر ۱، د پنجشنبې ورځ*

په واشنګټن کې د امریکا متحده ایالتونو چارواکو له ایم ایس ایف څخه وپوښتل چې آیا روغتون او یا د ایم ایس ایف نورو ودانیو کې خو په ډېر شمېر طالبان شتون نلري او زمونږ د کارکوونکو د خوندیتوب په اړه یې پوښتنې وکړې. مونږ په ځواب کې ورته وویل چې زمونږ کارکوونکي په کندوز کې په ټول ظرفیت سره کار کوي او دا چې روغتون، د طالبانو ټپي وسلوالو په ګډون، له ناروغانو څخه ډک دی چې ځیني یې د ایم ایس ایف د چهاردرې روغتیایي کلینیک ته استول شوي وو. ایم ایس ایف دا هم

---

[7] http//www.msf.org/article/Afghanistan-msf-hospital-overwhelmed-wounded-after-heavy-fighting-kunduz

ځرګنده کړه چې د خپل فعالیت د دوام په شرط روغتیایي ودانیو ته د درناوي د اړتیا په اړه مونږ د شخړې د ټولو اړخونو په اړه روښانه دریځ لرو.
د ملګرو ملتونو د اړیکو یوې سرچینې ایم ایس ایف ته سپارښتنه وکړه، چې په هغه ځای کې چې په اړه یې د شخړې ټولو اړخونو ته د GPS کاردیناسیون ورکړل شوی دی، "په کندوز کې د بمبارۍ د دوام سربېره" باید پاتې شي.

*د اکتوبر ۲مه، د جمعې ورځ*

د جمعې په ورځ، د تراما مرکز د دروازې پر سر د رڼپدونکي بیرغ تر څنګ، په روغتون باندې د ایم ایس ایف دوه نور بیرغونه هم نصب شول.[8] د کندوز تراما مرکز په کندوز ښار کې یواځنۍ ودانۍ وه چې د هوایي برید د شپې پر مهال د جنراتور د برېښنا په وسیله روښانه وو.

د هوایي برید څخه څو ساعته مخکې، ایم ایس ایف ته د فرانسوي او استرالیایي چارواکو له لوري خبر ورکړل شو چې د ایم ایس ایف نړیوال کارکوونکي د کندوز تراما مرکز کې د تښتونې له خطر سره مخ دي. دا خبر د فرانسې د سفارت له لوري د سپتمبر په ۲۹مه د هغې غوښتنې تر څنګ چې پکې له ایم ایس ایف څخه غوښتل شوي وو چې د تښتونې په صورت کې د ایم ایس ایف د نړیوالو کارکوونکو تیلیفوني او نورې د اړیکو مالومات ورکړي، راورسېد.[9] په نړیوالو کارکوونکو کې د کیوبا، مالیزیا، هنګري، سویلي افریقا، او فلیپین هېوادونو اتباع شامل وو. د ایم ایس ایف د خطر ارزونې د یوې برخې په توګه، په کندوز، کابل او د ایم ایس ایف په مرکزي دفتر کې د تښتونې د خطر د ارزولو لپاره د ایم ایس ایف له ټیم سره ژورې خبرې اترې وشوې. د خطر د یوې خپلواکې ارزونې پر بنسټ، د تښتونې د خطر پر وړاندې د ډېرو امنیتي اقداماتو د کولو پرېکړه وشوه. له ټولو هغو افغان او نړیوالو کارکوونکو څخه چې په روغتون کې بېکاره وو وغوښتل شول، چې تر څو د ودانۍ تر ټولو کښته پوړ او اداري دفتر په خوندي خونو کې پاتې شي.

د شپې په ۱۰ بجو، له ۱۰۰ څخه په ډېر شمېر د ایم ایس ایف کارکوونکي او پیوازان[10] وو چې د ځانګړو روغتیایي پاملرنو د ځانګې (ICU) او بسترخونې لاندې په ټیټ پوړ یا تاکاو کې ویده وو. دا تاکاوي روغتون ته شخړو د رانږدې کېدو پر مهال د یو خوندي ځای په توګه تیار شوی وو. هغه کسان چې د شپې د ۱۰ بجو پر مهال ویښ پاتې وو وویل چې د تېرو شپو او ورځو د سختو شخړو په پرتله دا شپه ډېره ارامه وه.

مخکې له دې چې هوایي برید وشي، د ایم ایس ایف کارکوونکو دا تایید کړه چې ټوله شپه په روغتون او د روغتون په ګاونډ کې ارامه ارامي قایمه وه. د روغتون شاوخوا شخړه نه وه، هیڅ الوتکه د روغتون او د روغتون په ګاونډ کې نه څرخېده، د ګولیو اواز نه اورېدل کېده، او د روغتون په دننه کې د چاودنې هیڅ غږ نه اورېدل کېده. ځینو کارکوونکو وویل چې دوی دا هم کولی شوای چې د روغتون د ودانۍ بام ته وخیژي چې د ورځې پر مهال د روغتون په ګاونډ کې د ګولیو د تلو راتلو له امله له دې کار څخه منع شوي وو. ټولو کارکوونکو تایید کړه چې د روغتون دروازه بنده وه او دا چې د ایم ایس ایف بې وسلې ګاردان په دننه باندې بوخت وو.

د شپې د ۱۲:۲۰ او ۱:۱۰ بجو په شاوخوا کې، د ایم ایس ایم کاردیناتور یا همغږی کوونکی د روغتون د امنیت په موخه له د روغتون له ودانۍ څخه لیدنه وکړه. کاردیناتور خبر ورکړ چې په روغتون کې ارامي ده، کوم وسلوال پکې شتون نلري، او نه په روغتون او یا له روغتون څخه بهر د شخړې اواز نه اورېدل کیږي. ایم ایس ایف ټول ګاردان یا ساتونکي په دندو بوخت وو، او ایم ایس ایف خپل روغتون تر خپل واک او کنټرول لاندې نیولی وو.

---

[8] د جمعې په ورځ، د روغتون شاوخوا شخړه کمه شوه، چې د ایم ایس ایف کارکوونکو کولی شوای چې د بام پر سر په ګولیو د لګېدو د ډار پرته وخیژي.

[9] ایم ایس ایف دا جزیات د سپتمبر په ۳۰مه د چهارشنبې په ورځ تر لاسه کړل.

[10] د ایم ایس ایف له پالیسی سره سم، په روغتون کې د یو ناروغ پر سر یوه پیواز ته اجازه وه.

د ایم ایس ایف ټولو کارکوونکو خبر ورکړ چې د و وسلو نشتون پالیسي ته د کندوز تراما مرکز یا روغتون کې درناوی شوی دی.[11] د هوایي بریدونو څخه یوه اونۍ مخکې، د روغتون ته وسلو د راوړلو قانون په بشپړ ډول پلی کېده او هر وخت تر کنټرول لاندې وو، او د ایم ایس ایف ټول کارکوونکو په خپلو مرکو کې وویل چې طالبانو او افغان ځواکونو د وسلو نشتون پالیسۍ سره سم عمل کاوه.

د ایم ایس ایف د ټولو مالوماتو پر اساس، د تراما مرکز او شاوخوا یې د ډزو اواز نه اورېدل کېده او خپلو قوانینو ته په درناوي سره د تراما مرکز د ایم ایس ایف له کنټرول لاندې وو.

---

***د سپتمبر له ۲۸مي څخه د اکتوبر تر ۲مي پورې روغتیایي مالومت/ارقام***

د سپتمبر له ۲۸مي څخه د اکتوبر تر ۲مي پورې، ایم ایس ایف په منځنۍ کچه هره ورځ ۱۱۷ ناروغان درلودل چې تراما مرکز ته راوړل کېدل. د ایم ایس ایف روغتیایي شمېرې ښیي چې ډېر شمېر ناروغان سخت ژور ټپونه درلودل.

یواځې په ۶ ورځو کې، د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر له ۲۸ څخه د اکتوبر تر ۲ پورې، ایم ایس ایف په بېړنۍ خونه کې د ۳۷۶ ناروغانو درملنه وکړه. هغه شمېره چې په سور او تور رنګ ښودل شوي د ناروغانو د سخت وضعیت ښودنه کوي.[12] د سپتمبر په ۲۸مه ۳۲ په سلو کې سور او تورو کټګوریو کې وو. د سپتمبر په ۲۹مه دا سلنه ۵۳ ته لوړه شوه، او بیا د سپتمبر په ۳۰مه ۳۵ سلنې ته راکښته شوه. وروسته، د اکتوبر په لومړۍ نېټه ۵۰ سلنې ته بېرته لوړه شوه. د اکتوبر په ۲مه، دا سلنه ۲۶ ته راکښته شوه.

د دې وخت څخه څو میاشتې وړاندې، د هغو ناروغانو سلنه چې د سور رنګ پر اساس بېړنۍ خونې ته راننوتل په منځنۍ کچه ۵ سلنې ته رسېدل. له هوایي برید څخه مخکې د یوې اونۍ پر مهال د کټګوریو شدت لامل د شخړې له امله خطرناک ټپونه وو، او همدارنګه، یواځې د خطرناکو کټګوریو ناروغانو د شخړو په بهیر کې د روغتیایي پاملرنې په لټون د سفر خطر پر ځان اخیسته.

د ۳۷۶ ناروغانو له ټولیزې شمېرې څخه د ۶ ورځو په بهیر کې په بېړنۍ خونه کې، ۱۱ په سلو کې ښځې او ۱۶ په سلو کې ماشومان وو چې عمرونه یې له ۱۵ کالو څخه ټیټ وو. په دې دوران کې ایم ایس ایف ۱۳۸ جراحي عملیات ترسره کړل. په عملیات خونه کې ۲۹ سلنه، د هوایي برید څخه یوه اونۍ وړاندې د لپراټومي[13] پورې اړونده عملیات ترسره شول.

---

[11] د کندوز د تراما مرکز د پرانستې راهیسې، د ډېرو کمو استثناوو پر اساس، کله به چې خطرناک ناروغ روغتون ته راوړل کېده، د روغتون دروازه به د هغه په لوري خلاصه وه تر څو ناروغ بېړنۍ خونې ته ولېږدول شي پرته له دې چې هغه کسان چې ناروغ لېږدي لومړی تلاشي او وکتل شي. پداسې حالاتو کې، د وسلو نشتون پالیسي ماتېده خو بېرته په چټکۍ سره پلې کېده.

[12] سور رنګ ښیي چې ناروغ سملاسي روغتیایي پاملرنې ته اړتیا لري. تور رنګ ښیي چې ناروغ مړ شوی او یا له راتلو سره سم مړ شوی دی. دا رنګونه، د شنو او زیړو رنګونو په ګډون، د سویلي افریقا د ترایاژ سیستم (SATS) پر بنسټ په بېړنۍ خونه کې ټولو ناروغانو ته منسوبیږي.

[13] لپراتومي د ژوند د خوندیتابه د ګېډې بېړنیو جراحي عملیاتو ته ویل کیږي.

**د امریکا متحده ایالتونو د ځواکونو له لوري هوايي برید (۲۰۱۵زیږدیز کال، د اکتوبر ۳مه، د سهار وختې)**

د ټولو مالوماتو سره سم، د امریکايي ځواکونو له لوري هوايي بریدونه د اکتوبر په ۳مه سهار وختي د ۲:۰۰ او ۲:۰۸ بجو تر منځ کې پیل شول.

د شپې تر ناوخته پورې، د ایم ایس ایف روغتون د هوايي برید په ټول بهیر کې په فعالیت بوخت وو او خپلې چارې يې پر مخ بېولې. روغتیايي کارکوونکو د شپې د ارامې فضا څخه په کار اخیستنې، کوښښ کاوه تر څو هغه ناروغان چې له عملیاتو څخه پاتې دي عملیات ترسره کړي. کله چې هوايي برید پیل شو، په روغتون کې ۱۰۵ ناروغان وو. ایم ایس ایف د دې اټکل کوي چې د ۳ او ۴ ناروغانو تر منځ دولتي ټېپي سرتیري وو، او نږدې ۲۰ ټپي وسلوال طالبان وو. د برید پر مهال، یو سل او ځلویښت افغان او نهه نړیوال کارکوونکې په روغتون کې وو. پر همدې مهال، د ICRC استازي هم په روغتون کې شتون درلود.[14]

داسې اټکل کیږي چې هوايي بریدونو نږدې یو ساعت دوام وکړ. د ځینو مالوماتو او توضیحاتو پر اساس داسې ویل کیږي چې د هوايي بریدونو یو ساعت دوام وکړ چې د هر برید تر منځ ۱۵ دقیقې وقفه راتله او نږدې د ۳:۰۰ او ۳:۱۵ دقیقو ترمنځ پای ته ورسېد.

---

[14] د سپتمبر په ۲۸، د ICRC دوه روغتیايي کارکوونکو د کندوز تراما مرکز کې روغتیاي فعالیتونو سره مرسته کوله. د برید پر مهال، یو له کارکوونکو څخه په روغتون کې وو. د ایم ایس ایف ۱۴۰ کارکوونکې په روغتون کې شتون درلود، پداسې حال کې چې په همدې شپه۸۰ کارکوونکې پر دندو بوخت وو.

**د امریکایي ځواکونو د هوايي برید پر مهال د ایم ایس ایف له لوري د تیلیفوني اړیکو لنډ جزیات**[15]

ایم ایس ایف ډېر زنګونه ووهل او په ډېر شمېر تیلیفوني پیغامونه یې د هوايي برید د درېدا لپاره ولېږل:

- د سهار د ۲:۱۹ دقیقو پر مهال، په کابل کي د ایم ایس ایف د استازي له لوري ناټو ځواکونو ته زنګ ووهل شو او خبر یې ورکړ چي روغتون تر برید لاندي دی
- د سهار د ۲:۲۰ دقیقو پر مهال، په کابل کي د ایم ایس ایف د استازي له لوري ICRC ته زنګ ووهل شو او خبر یې ورکړ چي د روغتون په هوايي برید کي ویشتل کیږي.
- د سهار د ۲:۳۲ دقیقو پر مهال، د ایم ایس ایف له لوري OCHA د ملکي/نظامي اړیکو سرچیني ته زنګ ووهل شو او خبر یې ورکړ چي روغتون د روانو هوايي بریدونو لاندي دی
- د سهار د ۲:۳۲ دقیقو پر مهال، په نیویارک کي د ایم ایس ایف له لوري په واشنګټن کي د امریکا د دفاع وزارت له چارواکو سره اړیکه ونیول شوه او په روغتون باندې د هوايي برید څخه خبر ورکړ
- د سهار د ۲:۴۵ دقیقو پر مهال، په افغانستان کي د OCHA د ملکي/نظامي اړیکو سرچیني له لوري په کابل کي ایم ایس ایف یو پیغام ترلاسه کړ او ایم ایس ایف ته یې "ډېرو ادارو" ته د مالوماتو د لېږلو تاییدي ورکړه.
- د سهار د ۲:۴۷ دقیقو پر مهال، په کابل کي د ایم ایس ایف له لوري یو تیلیفوني پیغام د ناټو ځواکونو ته واستول شو او خبر یې ورکړ چي یو کارکوونکی مړ او د نورو ډېر کارکوونکو په اړه توضیحات ندي ورکړل شوي.
- د سهار د ۲:۵۰ دقیقو پر مهال، په کابل کي ایم ایس ایف د افغانستان د کورنیو چارو وزارت ته د هوايي برید په اړه خبر ورکړ. افغان کورنیو چارو وزارت وویل چي دوی به د ځمکنیو ځواکونو سره په اړیکه کي شي.
- د ۲:۵۲ دقیقو پر مهال، په کابل کي د ایم ایس ایف اداري د ناټو له لوري تیلیفوني پیغام ترلاسه کړ او ویلي وو چي، "مونږ د پېښې په اړه خواشیني شوو، مونږ اوس هم نه پوهېږو چي څه پېښ شوي."
- د ۲:۵۶ دقیقو پر مهال، په کابل کي د ایم ایس ایف له لوري ناټو ځواکونو ته پیغام واستول شو او د بریدونو په درېدو مو ټینګار کاوه او د ډېرې کچي تلفاتو د اټکل په اړه مو خبر ورکړ.
- د ۲:۵۹ دقیقو پر مهال، په کابل کي ایم ایس ایف د ناټو ځواکونو څخه یو تیلیفوني پیغام ترلاسه کړ او لیکلي وو چي، "مونږ تر خپله وسه کوښښ کوو، او تاسو ټول ته دعاوي کوو."
- د ۳:۰۴ دقیقو پر مهال، د ایم ایس ایف له لوري ناټو ځواکونو ته تیلیفوني پیغام واستول شو چي روغتون په اور کي سوځي.
- د ۳:۰۷ دقیقو پر مهال، په کابل کي د ایم ایس ایف له لوري OCHA د ملکي/نظامي اړیکو سرچیني ته تیلیفوني پیغام واستول شو چي روغتون په اور کي سوځي.
- د ۳:۰۹ دقیقو پر مهال، په کابل کي ایم ایس ایف د OCHA د ملکي/نظامي اړیکو سرچیني له لوري یو پیغام ترلاسه کړ او پوښتل یې چي آیا بریدونه دریدلي دي.
- د ۳:۱۰ دقیقو پر مهال او بیا د ۳:۱۴ دقیقو پر مهال، په نیویارک کي د ایم ایس ایف له لوري د امریکا دفاع وزارت چارواکو سره د روانو هوايي بریدونو په اړه په دوامداره توګه اړیکي ونیول شوې.
- د ۳:۱۳ دقیقو پر مهال، په کابل کي د ایم ایس ایف له لوري OCHA د ملکي/نظامي اړیکو سرچیني ته یو تیلیفوني پیغام واستول شو، او ورته وویل شول چي بریدونه ودرول شول.
- د ۳:۱۳ دقیقو پر مهال، د OCHA د ملکي/نظامي اړیکو سرچیني له لوري یو تیلیفوني پیغام ترلاسه شو، چي لیکلي وو چي په شمال کي ناټو ځواکونو ته او په کابل کي CJOC او همدارنګه په کابل او شمال کي افغان ملي ځواکونو ته مالومات واستول شول.
- د ۳:۱۸ دقیقو پر مهال، په نیویارک کي د ایم ایس ایف له لوري په واشنګټن کي د امریکا د دفاع وزارت ته یو تیلیفوني پیغام واستول شو او ورته خبر ورکړل شو چي یو کارکوونکی وژل شوی او د نورو ډېرو کارکوونکو په اړه توضیحات نشته.

[15] ټول وختونه چي ښودل شوي، په افغانستان کي د ځايي وخت پر اساس لیکل شوي.

د مختلفو، دقیقو، او پر نښه سم یو لړ هوايي بریدونو د روغتون منځنی ودانی تر برید لاندې راوسته چې د روغتون پاتې ځایونه په نسبي ډول تر برید لاندې رانغلل. د روغتون ودانی د GPS کاردیناسیون سره، چې د شخړې ټولو خواوو ته ورکړل شوی وو سم برابر شوی وو (د GPS کاردیناسیون د روغتون د منځنی ودانی څخه نیول شوی وو کوم چې د هوايي برید لاندې راغی).

MSF TRAUMA HOSPITAL KUNDUZ, AFGHANISTAN




کله د روغتون منځنی ودانی د هوايي برید لاندې راغله، له دري عملیاتي خونو څخه یوه یې تر کار لاندې وه. د ایم ایس ایف دري نړیوالو او ۲۳ افغان کارکوونکو په همدې منځنی ودانی کې د ناروغانو درملنه کوله او یا یې جراحي عملیات ترسره کول. د ځانګړو روغتیایي پاملرنې (ICU) څانګه کې ۸ ناروغان وو او په عملیاتي خونو کې ۶ ناروغان تر درملنې لاندې وو.

هغه کارکوونکي او ناروغان چې د امریکايي ځواکونو د هوايي برید څخه ژوندي راووتل، د د ایم ایس ایف په روغتون باندې د برید د مختلفو ځایونو شاهدان دي.

د ایم ایس ایف کارکوونکي وايي چې ICU، چېرته چې د ایم ایس ایف کارکوونکو د یو شمېر بې حرکته ناروغانو درملنه کوله چې یو شمېر یې اکسیجن لاندې وو، لومړنی خونه وه چې وویشتل شوه. په ICU کې دوه ماشومان هم وو. د ایم ایس ایف کارکوونکي ICU ته د برید پر مهال د دغو سختو ناروغانو د درملنې لپاره تلل او راتلل او په مستقیم ډول په لومړي برید کې ووژل شول او یا د هغه اور لاندې چې ودانی یې پوښلې وه وسوځېدل. هغه ناروغان چې حرکت یې نشو کولی په ICU کې په خپلو بسترو کې وسوځېدل.

د ICU د ویشتو نه وروسته، هوایي بریدونه له ختیځ نه د لویدیځ په لوري د روغتون اخري برخه باندې پیل شول. د روغتون د ځانګړې روغتیایي پاملرنې (ICU) خونه، ارشیف، لابراتوار، بیړنۍ خونه، ایکسرې، د سرپایي ناروغانو ځانګې، د دماغي ناروغیو د درملنې او فزیوتراپي ځانګې او همدارنګه عملیات خونې د څپڅپاندو بریدونو له کبله ویجاړې شوې.

د لومړي هوایي برید وروسته، د ایم ایس ایف روغتیایي ټیم چې په عملیات خونه کې یې کار کاوه، د تعقیم خونه کې یې ځانونه خوندي کړل. په عملیات خونه کې دوه ناروغان، چې له درملنې لاندې وو، په هوایي برید کې ووژل شول.

د ایم ایس ایف نړیوال کارکوونکي، چې په اداري دفتر کې ویده وو، د چاودنو د اواز په اوریدو سره راویښ شول. د ایم ایس ایف یو نرس کارکوونکي د اداري دفتر ودانۍ ته چې یو لاس یې د چاودنې له امله په پرې شوی وو او له سر نه تر پښو پورې په خاورو او وینو لړلي وه راغله. د نرسې له سترګې او اوروفرنکس یا ستونې څخه وینې روانې وې. د اداري دفتر په ودانۍ کې د روغتیایي ټیم له لوري د نرسې د روغتیا لپاره سملاسي درملنه برابره کړه.

د هوایي بریدونو له دوام سره، ډېر شمېر کارکوونکو هغې الوتکې ته چې غږ یې تر ډېره اورېدل کېده کتل. د الوتکې چې اواز یې په دوامداره توګه د AC-130 په کچه اورېدول کېده، د ایم ایس ایف د روغتون برسېره څرخېده. له هغو کسانو سره چې مرکې ترسره شوي وویل چې داسې لویې چاودنې کېدې چې ځمکه به یې ښوروله. داسې لویې چاودنې د پرله پسې هوایي بریدونو له امله ترسره کیږي. د ایم ایس ایف کارکوونکو څرګنده کړه چې د الوتکو له لوري ګولۍ او مرمۍ ویشتل کېدې.

ډېرو کارکوونکو وویل چې دوی ولیدل چې په ډېر احتمال سره له الوتکې له لوري خلک په مرمیو ویشتل کیږي، پداسې حال کې چې خلکو هڅه کوله له روغتون څخه چې د هوایي بریدونو لاندې وو ځانونه په تېښته وباسي. ځینو مالومات ښیي چې هغه خلک چې په تېښته کې وو، د الوتکې د مرمیو له لوري ځارل کېدل. د ایم ایس ایف ډاکټران او نور کارکوونکي د روغتون مختلفو ځایونو ته د خوندیتوب په موخه په منډو کې په مرمیو وویشتل شول.

د ایم ایس ایف یو کارکوونکي وویل، چې یو ناروغ چې په لاسي څوکۍ کې ناست وو او کوښښ یې کاوه چې د بسترخونې څخه وتښتي، په هوایي برید کې د بمي چرو له امله ووژل شو. د ایم ایس ایف یو ډاکټر په یوه چاودنه کې د خپلې پښې له پرېکېدو څخه ډېر ځورېده چې وروسته د ایم ایس ایف د ټیم له خوا یې په یو بیړني مېز باندې عملیات ترسره شول خو په پای کې چې په همغه مېز باندې ومړ. د ایم ایس ایف نورو کارکوونکو وویل چې دوی خلک لیدل چې منډې یې وهلې پداسې حال کې چې په اور کې به سوځېدل او وروسته به په ځمکه بې سده راولوېدل. د ایم ایس ایف یو کارکوونکی د هوایي بریدونو د چرې له امله سر غوڅ شو.

که څه هم کارکوونکو سره د مرکو او اخیستل شوو انځورونو په ترڅ کې دا مالومه شوه چې د روغتون منځنۍ ودانۍ د هوایي بریدونو یواځنۍ موخه وه، د روغتون سویلي برخې په ګډون چېرته چې د ایم ایس ایف بې وسلې ګاردان د چرو د خوړو د ټپونو له امله مړه شوي وو، د روغتون نورې برخې هم تر برید لاندې راغلې.

MEDECINS SANS FRONTIERES

# MSF TRAUMA HOSPITAL KUNDUZ, AFGHANISTAN

**MSF TRAUMA CENTRE**
36°43'4.91"N 68°51'43.96"E

**MSF OFFICE**
36°43'3.29"N 68°51'42.62"E

## BEFORE

**21 June 2015**




## AFTER

**8 October 2015**



**MSF compound**

که څه هم د روغتون منځنی ودانی د برید لاندې هدف وو، لکه څنګه چې په انځورنو کې لیدل کیږي، په همدې ودانی کې ځینې داسې خونې وې چې په برید کې تر ډېره ونه ویشتل شوې چې یوه د عملیات خونې ختیځه برخه وه، همدارنګه د تعقیم خونه چې د عملیات خونې ډېر شمېر کارکوونکو په سملاسي توګه له برید وروسته همدې ځای ته د خوندیتوب لپاره ورمنډې کړې.

د ایم ایس ایف هیڅ کارکوونکی په روغتون کې له بریده مخکې او د برید بر مهال د وسلوالو او شخړې شتون نه تاییدوي.

د امریکایي ځواکونو له لوري هوایي بریدونه د سهار د ۳ او ۳:۱۳ بجو تر منځ ودرېدل.

د ټولو وژل شوو کسانو شمېره، د ۱۰ پېژندل شوو ناروغانو، ۱۳ پېژندل شوو کارکوونکو، او ۷ نورو جسدونو په ګډون چې د سوځېدنې له کبله یې پېژندل ناشونی وو او اوس هم د تشخیص د پروسې لاندې دي، ۳۰ ته رسیږي (دا جسدونه په مناسبه توګه ښخ شول). د ایم ایس ایف یو کارکوونکی او دوه ناروغان چې چې اوس هم ورک دي او داسې ګڼل کیږي چې مړه به وي او یا ښایي په سوځېدلو جسدونو کې به وي، خو د عدلي طب کتنې لا تراوسه پای ته ندي رسېدلي. په سوځېدلو جسدونو کې پیوازان هم ښایي شتون ولري چې له ناروغانو سره په یوه خونه کې وو. دا د تلفاتو نهایي شمېره نده، ځکه د روغتون د خاورو لاندې ښایي نور جسدونه هم شتون ولري.

<u>**د امریکایي ځواکونو له هوایي برید وروسته جزیات (د اکتوبر ۳مه)[16]**</u>

کله چې هوایي برید ودرېد، ایم ایس ایف، اداري دفتر ودانی ته، د ټیپانو د راټلو په اړه خبر ورکړ چې خلکو په ډارېدونکې حالت کې کانګې کولې او چغې یې وهلې.

د سهار د ۳ څخه تر ۴ بجو پورې، د ایم ایس ایف کارکوونکي په روغتون کې چېرته چې دوی ځانونه خوندي کړي وو، پاتې وو. نور کارکوونکي په روغتون کې د ورکو ملګرو د لټون لپاره ګرځېدل، په ځانګړي توګه د ICU، عملیات خونې او بېړنۍ خونې روغتیایي کارکوونکي.

له هوایي برید څخه وروسته په سملاسي توګه، د ایم ایس ایف روغتیایي کارکوونکو د ټیپانو د ژوند د ژغورنې روغتیایي درملنې پیل کړې. د ایم ایس ایف کارکوونکو هغه روغتیایي سامان الات چې پاتې وو راټول کړل او اداري خونه یې د بېړنۍ خونې په توګه وکاروله چې دوی پکې د دفتر او پخلنځای په میزونو باندې د جراحی عملیات ترسره کول. روغتیایي ټیم سخت او خطرناک ناروغان له هغو ناروغانو څخه بیل کړل چې حالت یې ډېر نه وو خراب تر څو په منظم ډول درملنه وشي. په سختو او وخیمو ناروغانو کې د ایم ایس ایف هغه کارکوونکي هم شامل وو چې د نورو ټپونو تر څنګه یې پښې یې له لاسه ورکړې وې، سینې یې سخت او په وخیم ډول ټپي شوې وې، او یا د ګېډې د وینو رګونه یې شلېدلي وو. د ایم ایس ایف روغتیاي کارکوونکو هڅه کوله تر څو له ځینو ناروغانو څخه چې ډېره وینه ځې درملنه وکړي. روغتیایي کارکوونکو د ناروغانو سینو ته نلکې وردننویستلې تر څو وینې راوباسي او د درد د کمولو لپاره یې درملنې ترسره کړې. د اداري دفتر په ودانی کې د ایم ایس ایف یواځې دوه کارکوونکي د عملیاتو پر مهال خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د ایم ایس ایف کواردیناتور یا همغږی کوونکي د عامې روغتیا له وزارت سره د امبولانسونو د رالېږلو لپاره اړیکه ونیوله تر څو ټپیان ولایتي روغتون انتقال کړي.

د عامې روغتیا وزارت امبولانسونه نږدې ۵:۴۵ بجې د کندوز تراما مرکز ته راورسېدل. ډېر شمېر کارکوونکي وایي چې د امبولانسونو له رارسېدو سره سم، د ځینې افغان ځانګړي ځواکونه د ایم ایس ایف روغتون ته راننول او ځینې یې په دروازه کې ودرېدل.

---

[16]د روغتونه په داخل کې، دا د ایم ایس ایف د ټیم لپاره له امکان څخه لرې وه چې وښیي چې دا بریدونه د امریکایي ځواکونو له لوري ترسره شول. خو وروسته بیا امریکا متحده ایالتونو او نظامي استازو ومنله چې برید د دوی له لوري ترسره شوی.

د عامي روغتيا وزارت او ايم ايس ايف امبولانسونو ناروغان په دوه پېرو کې د عامي روغتيا وزارت ولايتي روغتون ته ولېږدول. د ناروغانو د لېږد پر مهال، وضعيت خراب وو ځکه په ډېر شمېر ناروغانو لېږد ته اړتيا وه او افغان ځانګړي ځواکونه روغتون ته راورسېدل چې د روغتون څخه د بهر د شخړه هم روانه وه. ځينو افغان ځانګړو ځواکونو په د عامي روغتيا وزارت او ايم ايس ايف امبولانسونو کې د ټيپي طالبانو لټون کاوه. د سهار نږدې ۶ بجې، يو امبولانس له تراما مرکز څخه د وتو پر مهال له بريد لاندې راغی. د مرميو نښې په موټر باندې اوس هم پاتې دي.

د سهار د ۷:۳۰ او ۸ بجو تر منځ، د ايم ايس ايف ټول نړيوال کارکوونکي او د ICRC استازي د هوايي ډګر پر لور له روغتون څخه وويستل شول. افغان ملي اردو ځواکونو له ايم ايس ايف څخه په خپلو نظامي موټرو کې د هغوی د لېږد وړانديز وکړ. د ايم ايس ايف ټيم غوره وګڼله تر څو خپل کارکوونکي د ايم ايس ايف په ځانګړو موټرو کې ولېږدوي. د ايم ايس ايف له لوري پرېکړه وشوه تر څو کارکوونکي د ايم ايس ايف په موټرو کې کېښنول شي او تر مخ او تر شا يې د افغان ملي اردو ځواکونه بدرګه کړي.

د سهار د ۸:۳۰ په شاوخوا کې، د تراما مرکز کې د ايم ايس ايف پاتې کارکوونکي خبر ورکړ چې د کندوز تراما مرکز د دروازې مخکي شخړې بيا پيل شوې. شخړې هغه کسان چې په روغتون کې پاتې وو اړ کړل چې د يو ساعت لپاره د روغتون په تاکاوې کې ځانونه خوندي کړي.

د اکتوبر د ۳مې راهيسې، د امريکايي ځواکونو له لوري د ويجاړ شوي روغتون فعاليتونه په ټپه دريدلي دي.

## د څېړنې لومړنۍ پايلې

ايم ايس ايف، د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۳مه په روغتون باندې د امريکايي بريد څخه مخکې، د بريد پر مهال، او له بريد وروسته پېښو د لومړنيو پلټنو پر بنسټ لاندې لاندې پايلو ته رسېږي.

- هغه تړون او موافقه، چې د نړيوال بشري قوانينو پر اساس زمونږ د روغتيايي اسانتياوو بې طرفی ته درناوی کوي په بشپړ ډول په خپل ځای وه او مخکې له هوايي بريدونو څخه له ټولو ښکېلو خواوو سره پرې موافقه شوې وه.
- د کندوز تراما مرکز د يو روغتون په توګه د ۱۰۵ بستري ناروغانو په درلودلو او د هوايي بريدونو پر مهال د جراحي عمليات په روان ساتلو سره په بشپړ ډول فعال وو.
- د وسلې نشتون پاليسی په ګډون، د ايم ايس ايف ټول قوانين په روغتون کې پلي کېدل او درناوی ورته کېده او د هوايي بريدونو پر مهال ايم ايس ايف خپل روغتون تر خپل کنترول لاندې راوستلی وو.
- د روغتون په ودانۍ کې هيڅ وسلوال شتون نه درلود او د هوايي بريد پر مهال د کندوز تراما مرکز کې هيڅ شخړه روانه نه وه.
- د شخړې ښکېلو خواوو ته د GPS کارډيناسيون په دقيق توګه ورکړل شوي وو او په کابل او نيويارک کې د ايم ايس ايف ادارو له لوري د شخړې له ښکېلو خواوو سره د هغوی د خبرولو لپاره اړيکي ونيول شوې.

د دې پايلو پر بنسټ، د هغو قوانينو پر سر، چې له مخې يې روغتونونه په جګړييزو سيمو کې فعاليت کوي د پراخي موافقي او بې له قيدو شرطه د دغو قوانينو په رسميت پېژندلو په سملاسي توګه اړتيا ليدل کېږي. له دې څخه مطلب دا دی چې:
- يو فعال روغتون چې د ناروغانو درملنه کوي، د بېلګې په توګه د کندوز روغتون، خونديتوب ته اړتيا لري او بايد تر بريد لاندې رانشي.
- ټپي وسلوال بايد د کړکې او تبعيض پرته تر درملنې لاندې ونيول شي او بايد بريد پرې ونشي.
- روغتيايي کارکوونکي بايد شکنجه او ټپي وسلوالو ته د درملنې د برابرول له امله بريد پرې ونشي.